حاجي مهاجر ۲۵/۰۷/۲۰۱۰

# دکابل دنړیوال کنفرانس نه به څوک ګټه پورته کړي ؟

د ۲۰۱۰کال دجولای په شلمه نیټه چی کوم نړیوال کنفرانس په کابل کي جوړسو دکنفرانس له پروګرام نه داسی وبریښیده چي داکنفرانس یوازې دافغانستان ولسمشراودامریکا ولسمشر دخپلوناکامیودپټولو اودافغانستان اوامریکا دولسونودغولولودپاره یوه دیپلوماتیکه ډرامه وه . دافغانستا ن ددولت دپاره ډیربنه اوپروخت چانس ؤ چی دخپل هیواد دملي ګټواوخپل مظلوم ملت دښګڼی اوپرمختګ دپاره بې ددی کنفرانس نه ډیره ښه ګټه پورته کړی واې ولې متاسفانه داوږدی مودی راهیسی ګران افغانستان ددښه اومدبرمشرتوب دنشته والي نه ځوریږي دادی زموږ موږژواندي دولت یوځل بیا ونه سوه کولاې دموقع نه سمه استفاده وکړې څکه زموږ دولت ملې ګټی پرخپل وخت نه سی سنجولاې .موږکولاې سوه چي دکابل دکنفرانس نه په دروممهمومسلوکي ډیره ښه ګټه ترلاسه کړیواې خودبده مرغه دامهم چانس هم زموږدناکامه اداري دبی کفایتی قربانی سودادرې مسلې په لاندې ډول دي ،

الف : دامنیت مسله : -- په افغانستان کي دامننیت مسله ډیره مهمه اوترټولولومړیتوب لرې . پردی هیڅوک سترګې نه سې پټولاې چي په افغانستان کي اوسنی جګړه نه افغانی جګړه ده نه افغانانوشروع کړیده دایوه نړیواله جګړه ده اوددي جګړې دواړولوروشاته خارجیان اوخارجي مالي ملاتړولاړدی . داخونړې اولیونې ناتار نه افغان شروع کړی اونه بې ختم ولاې سې نه ددی بیچاره ملت نه ملامحمدعمر دطالبیانودتحریک مشرپوښتنه کړیوه چی زه القاعده راولم . ترڅوواشنګټن وولې اوستاسې بچیان په بمونوکي والوزي اوامریکایانوته دراتګ بهانه جوړه کړي ،اونه هم بش اوکرزي ورنه پوښتنه کړیوه چي موږ ستاسی خاوری ته دناټوښامارداخلوو ترڅوستاسې پرښادیواوجنازوبمباردوکړي. اوستاسی ښخي په سپوودارې که القاعده افغانستان ته داخله سوه هم دامریکایانوپه اشاره اودځینوګاونډیانوپه مرسته اومشوره داخل سو ه که په بن کي کوم ګروپونه سره کښینستل اکثره یی زموږ دګاونډیو هیوادولاس پوڅی وه نه دافغانستان ملت چا پوښتلي اونه په څلووښتوکالوکی دهغوي اراده تمثیل سویده همداعلت ؤ چي دبن اکثریت ډلې په شکل داشکالودګاونډیانولخوامعرفې سوی اودولتي چوکي هم دګاونډیانوپه غوښتنه لکه دخیرات برخی دهغوی لاس پوڅوته وویشل سوې . نوکله چي امریکایانوپه افغانستان کي داجګړه شروع کړه دفغانستان مظلوم ملت بې دلوې بلاپه خوله کې ورکی اوس دتښتی لاره لټوي که افغانستان مالک درلوداي که زموږ ملت یومدبرمشردرلوداي نودکابل دکنفرانس دګډون والونه یی باید په جدي اوښکاره ډول غوشتنه کړی واي . ښاغلوتاسي چي افغانستا ن دیوې نړیوالي جګړې تل ورتیله کړي اودلته موخونړې جنګ شروع کړي مهربانی وکړي داخپله شروع کړي معامله ترکامیابې ورسوئ‌اوکه دانه سې کولاې اودادروند پیټې زموږ دخواراومظلوملت پراووړوایږدی مهربانی وکړې دالاندې دندی ترسره کړی . .

لومړي : تاسې ته په نهه کاله کی نده مالومه سوی چي زموږ کورته څوک کانی راوروې؟ اوتاسې ته په نهه کاله کی نسوه ثابته چي دافغانستان ټولې ستونځې زموږ دګاونډیانولخواراجوړسویدي ؟چي دادې نن بې تاسی اوموږدواړه دمشکلاتوکندې ته اچولې یو دامینت شورابايد زموږ پرګاونډیانوزورراولې اوتضمین ترې واخلې ترڅوزموږپه کورنیوچاروکی لاس وهنه بنده اودترهګروپټځایونه له ځانه وشړي . اوزموږدایمی بې طرفی په رسمیت وپیژنی .داچي دایران خارجه وزیرپه ښکاره وایی چي دافغانستان مسله یوه سمیزه مسله ده دابايد پاکستان ، ایران ، ترکیه ، اوتاجکستان حل کړي . تاسې باید دهغونه پوښتنه وکړې که چیرې تاسې القایده اوطالبیان نه روزې اوستاسې سره نړداړیکې نه لرې نودانړیوال مشکل تاسې څنګه حل کولاې سې؟ په داسې حال کی چي امریکا دایو نړیوال مشکل بولې . ترهغوچي دامینت شوراز موږ دګاونډیانوله شره ونه ژغورې موږهم ددی دارنده پیټې دوړلوتوان نه لروپریږده چي بیرته نړې دسترګوابښ مزه وڅکی ؟ موږ چي کومه قرباني ورکړیده دخپل هیواد دپاره نوامریکایان هم لیونیان نه دي چي زموږدپاره خپلی پیسي اوسینی خاوری کوي.
دوهم : که چیري دامینیت شورا اوناټو زموږ دګاونډیانونه تضمین هم نه سې اخیستلاي اوامریکا اومتحدین بې جګړه هم نه سې پرمخ بیولاې نوکه ددوي تربدن وینې ځاځي زموږدولس وینی هم دومره ارزانه نه دي نودوي چي دوی به تښتی اوموږ به جنګیږو ددوی عسکربشردی اوزموږ داکانونه پیداسویدې دوی چي ځان باسی اوزموږ عسکرداورپه لمبوته پریږدې باید زموږهرعسکر، هرافسر، اوهر جنرال اوامنیتی ارګانوته هرمړی اوژوندي ته دهغومصارفواووسایلودوچنده برابر ورکړي کوم چي دوی دااوس دخپلوعسکرودپاره روزانه یامیاشتانه استعمالوې که


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

داهم نه سي کولاي اويوازې په مظلوموافغانانودانړيوال جنګ ګټي نودبايللواودهغه نه دراپيداسووخطرومسؤليت يی دافغانانوپه غاړه نه بلکه دنړی دفاتحانوپه غاړه دی کوم چي ځان دنړي بادارګڼې ،.

دريم : که چيرې تاسي نه جنګ مخ ته وړلاې سې ، نه دګاونډيانونه تضيمن ترلاسه کولاي سې ، نه موږته کاپې مصرف راکولاي سې اوافغان ولس پرنيمه ه لارپريږدی لکه روسانوچي خلقيان اوپرچميان پريښودل اوځان يی تري وايستې هم يی امپراطوری له منځه ولاړه اوهم يی خپل واک په افغانستان کی دلاسه ورکړې نوامريکا اوملګرې يی هم بايد ددې ورځې اننظاروباسې څکه امريکا مارزخمي کړې مړېې نه کړې :

ب : داداري فساد مسله : دکرزې اداره وايی چي نړيواله ټولنه په فساد ککړه ده اونړيوال کرزي، کورنۍ اوملګرې ېې په فساد لړلې بولي خودواړه دامني چي فساد سته اوس غل هم نارې وهي چي غل درغې اودکورمالک هم نارې وهي چي غل درغې ، دکرزې يوه ګيله داده چي پيسې بايد دده دولت ته ورکول سې ددی سره زموږدملت څه کاردي ؟چي پيسی ديوه غله پلاس کی وی اويا دبل هريويی خپل جيب ته اچوې دملت په دردنه خورې دادعوه بايد دکرزې اواوباماماقيايی ګروپونه وشړې چي پيسې دچاپه لاس کي وی هسی خوغلوته راځي اوغله يی وړې . دکرزې سره خودولتي ځمکي اودشيرپورکلا وه هغه يی څنګه خوند ې کړاې سوه چي نړيوالې مرستی به سمی وساتی افغانستان ته اوباما مسؤليت ځکه نه لرې چي هغه ته نه موږ رايه ورکړيده نوموږتاکلي دي اونه هم ځان زموږ ولس مشربولې که خارجيان غلاوي کوی که داخليان يی کوي زموږ دولت ياغافل دئ يايی مل دی . چي په دواړه حالاتوکي زموږ دملت سره جفاده . کرزي پخپله پرځان شاهيدي اداکوي چي زما دولت غل دي تاسې وګورې يوه ستره محکمه لرې ، لويه څارنوالي لري ، دملي امنيت رياست لري ، دفساد سره دمبارزې رياست لري ، دشکاياتوداوريدولورياست لري داداري اصلاحاتوکميسون لري ، ددرندو جرايموسره دمبارزې رياست لري ، پوليس اوجنابې لري په هريوه دمياشتي په ميلينوډالره مصرفوې ددی ټولوسره سره دی بله محکمه دخپلوقاضيانو، څارنولانو، وزيرانو، اولوړرتبه چاروکودمحاکمی دپاره جوړوی يعني پردي ټولوبې باوره دي اونوې کسان راولي ګوره چي داملايکي به له کوم اسمانه راشووه کړي ؟ ددی نه مالومه ده چي فساد دده په اداره کی دی که يی په خارجيانوکی هم بولې نوولې يوازې افغاني محکمه جوړوي افغاني محاکمه خونه سې کولاې چي خارجيانوته جزا ورکړې که دوې دواړوغوښتلاې چي دفساد ريښه وباسی اوپه فسادکی ډوب اولړلې کسان ولټوې بايد په دواړه يی يوه مشترکه محکمه رامنځ ته کړې واي اوددی کنفرانس دلارې کامل صلاحيت ورکړې وای چي داخلې اوخارجي غله يی دواړه محاکمی ته رکش کړی وای ، په کنفرانس پخپله ولسمشرکرزي وايی چي زه به داوکړم ، زه به هغه وکړم يوه صادقه اوپاکه اداره به جوړه کړم . په دي ټولو ناستوکسانوکي نه داخلې اونه خارجي ترې وپوښتل چي جنابه داخوستالومړي ځل نه دې چي ته داووعدي کوې په دالس کاله تا څه کړيدي؟ چي اوس به يی وکړې حتي ځوواره دي قسم هم خوړلې دی خوهيځ دی هم نه دی کړې اوس کوم لمرراوختی چي ته به داپه فساد کی ترغوږډوبه اداره اصلاح کړی . ؟ که دکرزي ادارې اويا نړيوالي ټولني په رښتنی توګه غوښتلاې چي غله اوداړه ماران پيداکړې بايدمشترکه اداره اومحاکمه يی جوړه کړي وای هغوی چي غلاوی کړې دی نه يوازې داداري بايد وايستل سې بلکه هغه وړي پيسې بيرته تړواخستل سی داچي دوې هسی لوټه په اوبوکي ايږدی اوپښه پرايږدی داکارغله نه سې پيداکولاې ددی نه مالومه ده ه چي دواړه په فسادکی لاس لرې .ځکه نوځان کوڼ اچوي..

ج : -- دملې پخلاينې مسله : ترټولوديوه هيواد په سرنويشت ديوي ټولني په ژوند کی داختلاف ليري کول اوملې پخلاينه ده ولوکه داکورنی نه نيولې ترهيواده پورې هم وی خوداکارهم په افغانستان کي هم دافغانستان په دولت پورې اړه لرې هم په خارجيانوپورې اوهم په مخالفينوپوري .

لومړي دافغان دولت برخه : کوم کسان چي نن فراره دي ، کوم کسانوچي نن په غروکی ناست دی ، کوم خلک چي نن ددولت په ضد جنګيږي . ايا دولت يا پخپله اويا ديوچاپه ذريعه پوښتنه کړيد ه چي داخلک چا اوولې دومره مجبوره کړه چی دديريش کلن جنګ اوستړيا سره سره بيا هم غروته وختل اوتوپک ته ېې لاس کړې ؟ ليرې به نه ځو . جناب کرزې صاحب ستانه دی په ياد چي دهلمند، کندهار، زابل ، اروزګان ، خوست ، دطالبيانو عسکرپه لکوکالدارو اوقوماندان يی په لکوډالره دشبرغان په زندان کي خرڅيده ؟ شپږکاله وچ کالې تيره سوې وه هيڅا پيسې نه درلودې دهمدی بنديانوخوندو اومندوخپل دلاس بنګړې خرڅول اوستا له زندانوېې خپل بچيان رانيول ، که مجرمان وه بايد محاکمه سوې واي خرڅول بې په کوم قانون کی رواګڼل کيده ؟ اوس په کوموسترګوورته مشران ورسې چي راسې ددی عادل دولت ترڅنګ ودريږې.

تانه ليده چي ستا واليانو، ولسوالانو، ستاقوماندانو، دهغه وخت دامنيت ريسانودطالب پنامه دخلګوکورونه لوټول اودهغوی نه يی په رواواوناروا شکل هرڅه اخيستل حتي په کوروورننوتل ، ته په دي نه ېې خبرچي هلمند دچا دلاسه فراره سو ؟ ته


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دي نه پې خبرچي اروزګان چا وفراري ته مجبوره کړي؟ چا دقومي تعصب چا دتنتظمی تعصب ، چا دشخصی عقدوپه اساس په زروکورونه تلاښی اودخلګونه یی دطالب پنامه هرڅه یووړل ،؟ ته په دي نه یی خبرچی کندهاردچا دلاسه ناارامه اوسرګردانه دي ؟ ته په دی نه خبرچي ستاماموریونن په کراچي ، دوبی اوکابل کی اسمان ختلې بنګلې جوړوي چي داتولې دهمدې ملت وینی چي څبيښل سوید ی .

ایا اوس هغه کسان محاکمه کولاي سی ؟ چی داجنایتونه یی کړیدی ؟ ایا اوس هغه کسان له خپله څنګه ولاړولاي سې چي لاسونه پې دملت په وینوسره دي اوملت یی بیرته وفراری اوجګړې ته مجبورکړيدي .؟ کله چي دیوه سړې د ورورقاتل ستا وخنګ ته ناست وی بل وروربه څنګه ستابغل ته راځی ؟ کله جي دیوه ورورقاتل دملامحمد عمروڅنګ ته ناست وی څنګه به ستاهغه لړلي مامورجرات وکړې اودهغه سره به یوځای کاروکړې ؟. هغه دوستم چي ستاپه واکمني کی یی دخلګوزامن په زندان کی په لکوکالداروخرڅول اوس تا څووزارتونه ورکړيدې ؟ څودی ولایتونه ورکړیدي ؟ څودي ریاستونه دی ورکړیدی ؟ که طالب جنګ کړیږ نه ددوستم اومحقق توپکوالوهم پرولس ګلان نه وه پاشلی ؟ که طالیبان په پردوپیسواواسلحوجنګیږي نه محقق ته هم دپلاراونیکه دسلاح کارخانه نه وه ورپاته سوي ؟ که موږ غواړوسوله راولو اوتیرپرتیرهیرپرهیرکړو ، نوباید هغه مجرمان چی ستاپه واکنی یی دخلګوپه عزت ملنډې وهلې دی اودخلګوکورونه لوټلې دی که په زندان کي نه سواچولاې لاقل له قدرته خویی باید لیری کړو . نورهې دجنایاتومخه ونیسو، مهمه پوښتنه داده چي دوستم داحق درلودې چي په اظطرارې لویه جرګه کی برخه واخلې په داسې حال چي دهغه دلایحی په اساس هیڅ قاتل حق نه درلودی چي ددی جرګې غریتوب ترلاسه کړی خوتا ورته ټولوته ځای ورکړی ؤ نوطالب ولې داحق نه درلودې ؟ ایاهغه ورځ دملې پخلاینی ښه ورځ وه اوکه نن ؟ که دوستم اومحقق دافغانستان داساسی قانون په جوړکي برخه اخیستلاې سوه چی وهغه ته خپل نماینده ګان راولیږي نوبیا حکمتیاراوطالیبانوولې داحق نه درلودي ؟ دسولې اوملې پخلاینې په برخه کی چي څومره زموږګاونډیان ملامت دي دکرزې دولت ترهغه څوچنده ملامت بلل کیږې اوترڅوچي داسي یو محاکمه رامنځ ته نه سی چی دکرزي ترحاکم کیدوورسته ټول جنایات ونه څیړل سي اومجرمان مالوم نه سی په شکل داشکالوجزا ورنه کول سی اواینده ددوی له شره ملت ډاډمن نه سې هیڅ کله سوله نه سې راتلاې یوچا چي دیوبل پرمال پرعزت پرژوند حتی ناموس تعرض کړیوې اوس څوک ورته وواېې چي راسه ظلم هم درسره سویدي دخپل دښمن لاس وپیښی هم ته ورمچ کړه ایا په افغاني ټولنه کی داامکا ن لري ؟.. سړي نه پوهیږي چي دازموږ مشران نه پوهیږي ؟ خپله ټولنه نه پیژنی ؟ اوکه ځان خطاباسي ؟ اویا قصدا داکارکوې طالب خولایوجنګی قدرت دي هغه خوهغه دی په جګړه بوخت دی دابه یوی خواته پریږدو هغه کسان چی یوه لورته نه دې نه دطالب ملګری اونه ددولت طرفداره دی راسې دهغونه پوښتنه وکړو چي څوفیصده له کرزې . دهغه له کورنې ، دهغه دمافیا، دهغه دوالیانو، دهغه ددولت نه راضي دي ؟

دوهم : دخارجیانوبرخه : کرزې صاحب پخپله ومشورتی جرګی ته وایی چي خارجیان موږهم پالې اوزموږمخالفین هم خارجیان وایی ترڅوچي طالیبان وي موږ نه ځواوطالیبان وایی چي خارجیان وې موږ نه راځودی اعتراف کوې چي خبره داده چي موږته پې سلاکړیده . دکرزې په ټولوخبروکی دغه یوه خبره یوڅه حقیقت ته ورته ده . خارجیان یې هم پرنال وهی اوهم پرمیخ ، داهغه خطرناکه لوبه ده چي یووخت به وربانديې بیبنمانه وي . امریکا باید خپله تګ لاری ته یومخ ورکړی نه دوه مخه ترڅوچي امریکا اوناټویوه لاره خپله نکړې همیشه به په تزلزل اواضطراب کی ژوند کوې خصوصا دافغانستان په اوسنی جګړه کی امریکا وغله ته وایی غلاوکړه اودکورمالک ته وایی کورګوره همدایی داناکامی اصلې عوامل دی.په کارخوداوه چي په دي کنفرانس کی ټول حقایق روښانه سوې واي اودکنفرانس دګډوالونه پوښتنه سوې وای چي زموږ سره ولې دوه مخه سیاست کیږې ؟ اوکله به دااصلاح کیږي .؟ دیوی خوا دسولې پروګرام تایدوې دبلی خوا وایی چي دمشرانونمونه باید له توره لست نه لیرې نه سې نوپه کارخوداوه چي داخبره دکابل په کنفرانس کی په ډاګه سوی اوسپینه سوې وای موږ چي ولیدل هلته هرڅه ترتشکرپورې محصوروه.

دریم : دمخالیفینوونډه : دافسوس خبرخوداده چي مخالفین دقبروملنګیان دخارجیانودجاسوسی په توروژنی ، دښوونځیو چوکیداران ، ژونالستان وژنی ،ډاکتران وژني ، ښوونځې سوځوې خودهغه جنایتکارانوپه هکله چي دهغوی دلاسه داملت ترسږ موراغلې دی بدخوب هم نه وینی ، مخالیفن بایدهم په وپوهیږې چي پردې کټ ترنیموشپودی ، ملت اوس هم په دي پوه دي چي دوې پرکوم ګودراوبیږې . هغوی باید خپله خاوره اوملت دقدرت ، چوکي اوپردو ارمانوقرباني نکړی ، دایوشتمه پیړې ده ددوی تګ لاره نه نړې ته نه دافغانستان اکثریت خلګوته دمنلوده ، دکله چي روسانوپرافغانستان یرغل کړیدې موږپه دي کی اخته یو، یووایی هغه کافردې بل وایی هغه کافر دی ماته اکثره وخت داپوښتنه وي چي مسلمان به څوک وې ؟ مجاهیدنیوخلقیان اوپرچمیان کافران بلل ، بنیادګرایانوملې ګریان کافران بلل ، حکمتیارصاحب ، سیاف صاحب ، ربانی صاحب ، مولوې خالص صاحب ظاهرشاه اودهغه ملګرې کافران بلل طالیبان چي راغلل ټول تنظمونه یی کافران بلل ، کرزې صاحب چي راغلې لاس پوځویی طالیبان مردودبلل . طالیبان چي بیا راڅوندې سوه ټول دیموکراتان کافران بولې اوس پوښتنه داده چي دلته مسلمان څو ک دی ؟ وروړو راته ثابته سوه چي هرڅوک چي په



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پردی کورزین کی سپورؤ مسلمان دی که پرخپل باسیکل سپورکافردې . دلته مخالفین هم باید پردې خوار اومظلوم ملت زړه وسوځی ، که ظلم دوستم کړی ؤ ظلم ؤ که طالب یی کوی هغه هم ظلم دی ظالم چی هرځوک وی  ظالم دی .خدای پا ک مود ی دظالمانوله ډلې وساتی .اونه مودی خداي ورسره ملګر ی کوې

**نیتجه :** ددی کانفرانس نه به دکرزی صاحب مافیا مالی ګټه پورته کړي  اوپنځوس فیصده پیسې به ورته راسې اوبامابه دخپل کمپاین دپاره سیاسې اوافغان ولس به خواره بازاري        هغه ته هغه خواري


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ